# مالي مرسته:
# د کرایستچرچ د جوماتونو برید

**له 3 جون 2019 څخه، موږ د جوماتونو په برید کې اغیزمن شویو خلکو ته مالي مرستې ته لاسرسی برابر کوو.**

**که ستاسې عاید ستاسې او د ستاسې د کورنۍ د اړتیاوو لپاره کفایت نکوي، او تاسې له دې برید څخه اغیزمن شوي یاست، موږ ستاسو سره داسې مرسته کولی شو.**

### زه د کرایستچرچ ځوابي ویزه (Christchurch Response Visa) لرم

که تاسې د کرایستچرچ ځوابي ویزه لرئ، تاسو ممکن د اصلي ګټو او نورو مالي مرستو وړتیا ولرئ. تاسې ته لازمي نده چې په نیوزیلند کې د دوو کلونو لپاره استوګن وئ.

پدې کې هغه خلک هم شامل دي کوم چې دایمي استوګنه لرئ او په نیوزیلند کې د دوو کلونو څخه کم اوسیدلي وئ او د کرایستچرچ د ځوابي ویزه مستحق دئ.

### زه د کرایستچرچ د ځوابي ویزې مستحق یم

که تاسې د کرایستچرچ د ځوابي ویزه مستحق یاست، نو کیدای شي چې موږ تاسو ته د نوي کرایستچرچ تادیات د ټولنیز او پراختیا وزارت (Ministry of Social Development MSD) له لارې تادیه کړو.

د تفصیل لپاره وګورئ.

### زه د کرایسچرچ ځوابي ویزه مستحق و نه ګڼل شوم

که:

- که تاسې دلته لنډ مهاله ویزه لرئ، **او**
- تاسې د هغه چا سره نږدې خپلوي لرئ چې د جوماتونو په برید کې حاضر یا ټپي او یه هم وژل شوي وي،

تاسې کیدای شي د کرایستچرچ نویو تادیاتو چې د ټولنیزو پراختیا وزارت (MSD) لخوا ورکول کیږي مستحق واوسئ. د 'نږدې خپلوي' مانا دا ده چه تاسې د دوی میړه/ښځه (partner)، والدین او یا بالغ (non-dependent) خور او ورور او ماشوم یاست.

د تفصیل لپاره وګورئ.

### زه د کرایستچرچ د جوماتونو او یا د مسلمانانو د ټولنې سره اړیکې لرم او زه د دې برید له امله ځوریږم، تراوما لرم

که:

- تاسې یوه برخه، او یا تړاو لرئ، د کرایستچرچ د دوو جوماتونو او یا د مسلمانانو د ټولنې سره، **او**
- تاسې په نیوزیلند کې وئ په 15 مارچ 2019، **او**
- تاسې د برید له امله ځورینه او تراوما تجربه کوئ،

تاسې ممکن د نوي د کرایستچرچ تادیات د ټولنیز او پراختیا وزارت (Ministry of Social Development (MSD)) له لارې مستحق وئ. تاسې اړتیا لرئ چه د خپل د ډاکټر یا مشاور لخوا طبي تاییدي تر لاسه کړئ. موږ ممکن وکولی شو ستاسو سره د پیسو په ورکولو کې مرسته وکړو نو لطفآ د دې په اړه زموږ سره خبرې وکړئ.

د تفصیل لپاره وګورئ.

**د ځینې مالي مرستو لپاره، موږ ستاسې شتمنۍ او عواید په پام کې نیسو کله چه دا مالومه وو چه څومره مرسته درسره کیدلی شي.**

# د جوماتونو په برید کې د اغیزمنو خلکو لپاره نوې تادیات

موږ د MSD لخوا د جوماتونو په برید کې هغو اغیزمنو خلکو لپاره چې د نورو تادیاتو مستحق نه ګڼل کیږي د هفتې نوې تادیات معرفي کړي. د کرایستچرچ د جوماتونو د برید تادیات د **3 جون** څخه چمتو دي. دا تادیات کیدای شي تر یو کاله پورې وي.

## زه څومره پیسې لاس ته راوړی شم؟

د پیسو اندازه چې تاسې کیدای شي تر لاسه کړي دا به ستاسو په وضعیت او که کوم بل عاید تر لاسه کوي په هغه پورې اړه ولري. تاسې به عموما په هره هفته کې پیسې تر لاسه کوي مګر دا ممکن د وخت نه تر وخته توپیر وکړي که ستاسې په وضعیت کې بدلون راشي. موږ به ستاسو سره اړیکې ساتو تر څو ډاډ تر لاسه کړو چې تاسې دا ټول ملاتړ تر لاسه کوي چې موږ یې ستاسو د وضعیت لپاره چمتو کولی شو.

تاسو ممکن مرستې د نورو سازمانونو له لارې چې د جوماتونو په برید کې د اغیزمنو خلکو سره یې کوي لاس ته راوړي وي – دا به ستاسې د عوایدو او نقدو شتمنیو په حیث نه حسابیږي کله چه موږ دا حسابول کوو چې څومره مرسته درسره وشي.

## زه څنګه غوښتنلیک وکړم؟

که تاسې د قضیې مدیر لري، د هغه سره د هغو مرستو په هکله خبرې وکړي کوم چه ستاسې او ستاسې د کورنۍ لپاره شتون لري.

که تاسې د قضیې مدیر نلري، نو لطفآ په دې شمیره **0800 559 009** زنګ ووهی.

که تاسې ډاډه نه یاست چې تاسې مستحق یې او که نه، نو لطفآ موږ ته زنګ ووهی چې ستاسې سره د دې په هکله خبرې وکړو. حتی که تاسې مستحق نه یاست، موږ به وګورو چې ایا نورې لارې شته چه موږ درسره مرسته وکړو.

موږ کولی شو یو څوک تنظیم کړو چه ستاسې په خپله ژبه ستاسو سره خبرې وکړو. موږ ته دا ووایې کله چه زنګ راته وهی.

که تاسې او یا ستاسې کورنۍ د قضیې مدیر ملاتړ غواړي لطفآ په دې شمیره **03 961 9257** زنګ ووهی
او یا په دې پته **support@msd.govt.nz** ایمیل واستوی